
دریمه کچه

# یو کب او یوه ډالۍ



**لیکوال:** لیسل جوبسون
**انځورګر:** جیسي برېټېنباچ

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



د جمعې په یوه ځانګړې ورځ، د یوسف پلار مخکې له دې چې د رڼا څرک اسمان روښانه کړي، کالي بدلوي. هغه خپله درنه او د موسم د ناوړه تاثیراتو پر وړاندې مقاومه چپنه او شنه وړینه خولۍ چې غوږونه یې پټوي، اغوندي.


هغه خپل بچي ته د خدای په امانۍ لاس خوځوي. د یوسف سترګې هغه مهال وځلیږي کله چې پلار یې وایي، ”نن هغه ورځ ده چې زه به یو کب نیسم او کور ته به تا لپاره یوه ډالۍ راوړم.“



يوکب او يوه ډالۍ؟ اوه، دا به څه شی
وي؟ پلار د موزينرګ ساحل ته په سايکل
سپور روان دی. د سايکل ټيرونه په ټوله
لاره پر تخته د اوبو په څپو ګرځېدونکو
ځای (Surfer’s Corner) پورې چر چر
کولو سره په حرکت کې دي.

سمندري مارغان په هوا کې تاوېږي. ”څه؟
څه؟ څه؟“ هغوی چيغه کوي. ”ته به د
يوسف لپاره څه شی وړې؟“


پلار خپل زنګ وهي. ”صبر وکړه او ګوره
چې دا به څه شی وي!“



کب نیوونکي ګوري چې لمر د راختو په حال کې دی. هغوی د خپلو جالونو کتنه ترسره کوي. هغوی خپل راشبېلونه ګوري. هغوی باد ته غوږ نیسي. هغوی خپلې کښتۍ اوبو ته کښته کوي. د یوسف نیکه، شاهجهان، د پوکاڼیو او وزنونو درلودونکي کب نیونې جال سره په کب نیونه کې مهارت درلود. تر هغه وړاندې د هغه پلار، همایون رضوان، هم له سمندر سره ښه بلد و.

کښتۍ په څپو ورګډېږي. د پلار لاسونه راښبېل پسې غځېږي. د هغه پښې څنډې پورې کلکې نښتې دي. د هغه ورمېږ کش شوی دی، او د ملا عضلې یې د څپو په څېر تاوونه خوروي.

””پلار د کار پر مهال سندره وايي: ”وغورځوه او وخوځوه. یو کب پیدا کړه. کش کړه او اوبو کې خطا کړه. درېږه مه.“






یوسف ټوله ورځ اسمان ته ګوري. دا روښانه او پاک دی او بادونه نه لري. یو کب او یوه ډالۍ! پلار به له سمندر څخه کور ته څه شی راوړي؟ کله کله هغه یوه ښکلې کونجکه/صدف راوړي. کله کله هغه د ملغلرې شین بوتل راوړي چې د څپو په واسطه پرېمنځل شوی وي.



بعضې ورځې د یوسف پلار یوه کیسه راوړي. لکه د هغه وخت کله چې هغوی په شګه باندې شمشتۍ موندلې وې چې په یوه توپان کې په سلګونه تعداد سره د اوبو ساحل ته رارسولې وې.

"څه؟ څه؟ څه؟" سمندري مارغانو چیغه کړه. "تاسې به له شمشتیو سره د مرستې لپاره څه کوئ؟ "

پلار وویل، "ساده یې درته وایم، مونږ دغه شمشتۍ وژغورلې. مونږ هغوی بېرته سمندر ته واستولې، هره یوه یې."



پلار تل یوه سندره راوړي. کله چې هغه راشبېلونه کش کوي، هغه سندره وايي. کله چې هغه جالونه کش کوي، هغه سندره وايي. کله چې هغه رسۍ تاوه وي، هغه سندره وايي. کله چې هغه په سایکل باندې سپور کور ته راځي، هغه سندره وايي. "وغورځوه او وخوځوه. یو کب پیدا کړه. کش کړه او اوبو کې خطا کړه. درېږه مه."



صفیه انا د خپلې ماښامنۍ لپاره
یوه ښکلې چاغ د ژیړې لکۍ کب
غواړي.
مور نوی لباس غواړي.

انا وایي، ”ساده کېږه مه. ته به ډېر
بختور یې که هغوی یو کوچنی
چنګاښ هم پیدا کړي. ډېر احتمال
دی چې دا به د کب لکۍ جُمعه وي.
په سمندر کې دومره ډېر کبان نه
دي پاتې.“

یوسف د انا لاس نیسي. هغوی د حمام
غرفو ته څېرمه په سړک اوړي.

”څه؟ څه؟ څه؟ “، د چتونو د پاسه
ناست سمندري مارغان چیغه کوي.
”د ماښام ډوډۍ کې څه شی دی؟“



تېر کال کب نیوونکو د تختې په مرسته د اوبو پر سر ګرځېدونکو (سرفر) سره جنګ کړی و. په جنګ کې د سوکانو بارانونه او د چیغو شور ماشور و.

”څه؟ څه؟ څه؟“ سمندري مارغانو چیغه کړه.

د یوسف پلار وویل، ”د هر چا لپاره سمندر ښه پراخه دی.“ هغه هغوی ته د کب نیونې جواز وښودلو چې د صالح بابا و. ”ځپې د هر چا لپاره. اوبه وړیا.“



صفیه انا د خپل دوربین په مرسته ګوري، د هغې ګوتې په کنجکاوۍ کې تاویږي. د شارک زنګ غږیږي. د تختې په مرسته په اوبو ګرځېدونکي، په داسې حال کې چې خپلې تختې یې په خپلو تخرګونو کې نیولي، په بیړه ساحل ته ځآنونه رسوي. د شاورونو لاندې هغوی خپل لامده لباسونه اوباسي.

”څه؟ څه؟ څه؟“ سمندري مارغان چیغه کوي. ”د یوسف پلار به له سمندر څخه څه شی راوړي؟“



د یوسف پلار او کاکا او تربوران رسۍ پورته کوي او راکاږي. یو کوچنی شارک کب نیول شوی دی. دا په ځپو کې تاوېږي راتاوېږي او په زوره زوره وزرونه او سر وهي.

د یوسف پلار جالونه سپړي، په داسې حال کې چې شارک ماهي ته سندره زمزمه کوي: "وغورځوه او وخوځوه. یو کب پیدا کړه. کش کړه او اوبو کې خطا کړه. درېږه مه."

کله چې بالاخره شارک ازاد شي، دا په چټکۍ سره په ځپو ورځي، چې یوازې یو د ژیړې لکۍ کب په جال کې پاتې کېږئ. صفیه انا به خوشحاله شي.



سړي کښتۍ راکش کوي او رسۍ راټولوي. يو سخت سپين مثلث د پلار په ګوتو لګېږي.

”څه؟ څه؟ څه؟“ سمندري مارغان چيغه کوي. ”تا د يوسف لپاره څه شی راوړ؟“

په داسې حال کې چې لمر پرېوځي، پلار سمندري مارغانو ته ځواب ورکوي. ”زما د بچي لپاره د شارک يو بختور غاښ.“

په کور کې، يوسف خپله ډالۍ ستورو ته ښيي.



## لارښودونکې پوښتنې

1. د یوسف پلار څه ډول سړی دی؟ د خپل ځواب د ملاتړ لپاره له کیسې څخه یو ثبوت وړاندې کړئ؟
2. څنګه د یوسف پلار بالاخره د یوسف لپاره یوه ډالۍ پیدا کړه؟ هغه پخوا یوسف ته څه ډول ډالۍ ورکړې وې؟
3. آنا وایي، "په سمندر کې دومره ډېر کبان نه دي پاتې." ستاسې په اند د دې یو څو لاملونه څه کېدای شي؟
4. د یوسف پلار په تخته باندې د اوبو پر سر ګرځېدونکي ته وویل چې سمندر د هر چا لپاره پراخه دی. آیا ستاسې په سیمه کې، چېرته چې تاسې اوسېږئ، ګډې سیمې یا تسهیلات شته دی؟ آیا خلک له دغو تسهیلاتو څخه د ګټه اخیستنې پر سر کله شخړه کوي؟ هغوی له دغه سرچینو څخه په ګډه مساویانه ګټه اخیستنه څنګه باوري کوي؟
5. آیا تاسې د خپلې خوښې ډالۍ ترلاسه کړې ده؟ د ډالۍ په اړه څه شی ستاسې خوښ شو؟